# دنویو راغلو افغانانو لپاره د روانی روغتیا مرستې

## ملی کمکی کربنه

1 شمیره: 800.615.6514

د امریکا د مهاجرینو او پناه غوښتونکو اداره (USCRI) د رمبو هاوس میډیا سره په ملګرتیا کی د ملی بیړنی حالت لپاره د اړیکو نیولو شمیره فعاله کړې ترڅو هره ورځ (۲۴/۷) د نوی میشت شوو افغانانو سره مرسته وکړی.

مشوره ورکول د اړتیا پر اساس چمتو کیږی، او مناسبو خدماتو ته د لاسرسی لپاره سمدستی معرفی کیږی. هغه قضیې چې بیړنی مداخلی ته اړتیا لری د بیړنی غبرګون ټیم (CRT) ته معرفی کیږي.

## ټیلیفوني روغتیايي خدمتونه

2 په امریکا کی د افغان ډاکټرانو ټولنه (AMPAA) او Healis Health د USCRI سره په ملګرتیا د یو جامع ټیلي هیلت (د انټرنیټ له لاری روغتیايي خدمتونه) د اسانتیاؤ چوکاټ جوړ کړیدی، چې د هغې له لاری د نوی راغلي افغانانو ارزیابي او په مستند شکل سره سیستم ته داخل کوی ترڅو و مناسبو ابتدايي صحی خدماتو او روانی روغتیا ته د کلتوری او ژبني اسانتیاؤ په پام کی نیولو سره لاسرسی پیداکړی.

د ناروغ د راجع کولو فورمی ته د لاسرسی لپاره دا کیو ار کوډ سکن کړی

یا

د لاندی ایمېل له لاری زمونږ سره اړیکه ونیسئ

afghantelehealth@uscrimail.org

## د روانی روغتیا ساحوی ټیمونه

3 USCRI به په لاندي څلورو ایالاتونو کي د روانی روغتیا ساحوی ټیمونه لری: **ټکزاس**، **واشنګټن سټیټ** (چې پدی ایالاتو کی په لوړ تعداد افغانان مېشت شویدی)، **فلوریډا** او **پنسلوانیا** (هغه ایالتونه چې تر ټولو لوړه اړتیا لري او په ټیټه اندازه د بیا مېشت شوی افغانانو سره مرسته شوی).

همدا د رواني روغتیا ساحوی ټیمونه به د ژبني او کلتوري مناسبو خدماتو له لاری د ځایي صحی سیستمونو سره یوځای کار کوی ترڅو د راغلو افغانانو سره د هغوی په ستونزو او اړتیاو کی مرسته وکړی.

همدا ټیمونه به په ۵۰ ایالاتونو کی د محلی صحی ادارو سره د زده کړی او تخنیکی اسانتیاو په اړخ کی مستقیمه مرسته کوی.

## د بیړنی غبرګون ټیم (Crisis Response Team )

4 د USCRI د بیړنی غبرګون ټیم (CRT) یو څو اړخیزه مسلکی مجهز ټیم دی چې سمدلاسه د هغو افغانانو سره چې د روانی ستونزو څخه کړیږی مرسته کوی.

د بیړنی غبرګون ټیم (CRT) د ایالتی صحی سیستمونو سره په همږغی د هغو افغانانو لپاره چې عاجلو صحی مرستو او پاملرنی ته اړتیا لری مستقیم کلینیکی خدمتونه، صحی روانی مرستی او اسانتیاوی برابروی.

د ناروغ د راجع کولو فورمی ته د لاسرسی لپاره دا کیو ار کوډ سکن کړی

یا

د لاندی ایمېل له لاری زمونږ سره اړیکه ونیسئ

afghancrt@uscrimail.org

### څنګه خدماتو ته لاسرسی پیداکړو

- سیمیزی همکاری اداری
- د کډوالو د روغتیايي چارو ایالتی همغږی کوونکی
- افغانان
- د کډوالو د بیا مېشتیدو دفتر

د متحدینو د بیه راغلاست عملیاتی پروګرام په تعقیب او د کډوالو د بیا مېشتدو د دفتر په مالی ملاتړ، د افغانانو لپاره د تخصیص د قانون په اساس، د امریکا د مهاجرینو او پناه غوښتونکو اداره (USCRI) صحی بخش یو څو اړخیزه د صحت روانی د مرستی برنامه ترتیب کړېده چې هدف یې د ژبني او کلتوري اسانتیاو او صحت روانی خدماتو ته د لاسرسی په مرسته د بیامېشتیدو د ستونزو راکمول دی. دغه برنامه د یوی ډلی افغان تباره امریکايي متخصصینو او په امریکا کی د افغان ډاکټرانو ټولنې (AMPAA) او رمبو هاوس میډیا په ملاتړ تطبیق کیږي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره پدی ایمیل ادرس زمونږ سره په اړیکه کی شئ: afghanmh@uscrimail.org

U.S. COMMITTEE FOR REFUGEES AND IMMIGRANTS